# سره میاشت

نشریهٔ سه ماهه جمعیت هلال احمر افغانی

سال شصت و پنجم نشراتی، دور هفتم، شماره هفتاد و نهم

**سره میاشت برای همه در همه جا!**




په هر وخت او هر ځای کې چې طبیعي او غیر طبیعي پېښې خلکو ته زیان ورسوي، نو سره میاشت د پېښځپلو د رنځ او کړاو د کمولو په موخه لاس په کار کېږي او هڅوي ته لازمې مرستې ورانديې کوي.



چېرته چې خلک د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله زیانمن شي؛ سره میاشت ورسره په بیړه د ستونزو د کمولو په موخه بې توپیره مرسته او لاسنیوی کوي.



رضاکاران جمعیت هلال احمر افغانی در کنار سایر خدمات بشردوستانه این نهاد، در تطبیق واکسین کودکان نیز نقش و سهم بارز و فعال دارند.

بسم الله الرحمن الرحیم

عن ابی امامه رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: ( داوو مرضاکم بالصدقه )

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :( تاسو په صدقاتو د خپلو ناروغانو درملنه وکړئ. ( حديث شريف)

## فهرست


(سرليک) د ښوزلو پښتنځپلو او بې ځایه شویو ..........................................

زنده گی نامه محترم مولوی مطیع الحق..................................١

د افغاني سرې مياشتې ټولنې له سرپرست رييس...........................٣

ښاغلی مولوي مطيع الحق خالص د افغاني.................................٦

سر پرست جمعیت هلال احمر افغانی با معاون دوم رئیس الوزرا .........٨

د افغاني سرې مياشتې ټولنې سرپرست عمومي رييس پاکستان .........٩

تداوم فعالیت های کمیته بین المللی صلیب سرخ با جمعیت.................١١

سرپرست عمومي رييس د لوړو زده کړو له وزيره ..........................١٢

الخدمت خيريه بنسټ له افغاني سرې مياشتې سره ...........................١٣

سرپرست رياست عمومی سره مياشت در ملاقات با رئیس فدراسیون.........١۴

نماینده حوادث جهانی کشور ترکیه.......................................١۵

موسسه دهکده صلح آلمان ٢٠٠٠ بسته.......................................١۶

شعر او ادب..............................................................١٧

د افغاني سرې مياشتې ټولنې مرستيال الحاج ملا نورالدين ترابي .........١٩

کمک به ١٨١۵٨ خانواده متأثر از حوادث ...................................٢٢

د افغاني سرې مياشتې ټولنې ځانګړي اوني ولمانځل شوه...........٢۴

ښوزلو ناروغانو ته د سرې مياشتې روغتيايې خدمتونه..............٢۵

احسان و نیکوکاری.......................................................٢٧

د سينه بغل (نيمونيا)ناروغي ..........................................٢٩



## د امتياز څښتن:

د افغاني سرې مياشتې ټولنه

# خپرندويه اداره

د اطلاعاتو او خپرونو رياست

مدير مسوول: گل آقا فجر

گرافیک دیزاینر: سمسور فخری

سکرتر مسوول مجله: مولوی نجیب الله حنفی

خبرنگار: هدایت الله عزیزی

عکاس: عمادالدین فاریابی

شماره تماس:

٠٧٢٨٩٠٠١٠٣ / ٠٧٢٨٩٠٠١۴٧

پست بکس: ٣٠۶۶

آدرس:

افغانستان، کابل، ناحیه پنجم، افشار سیلو، دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی

info@arcs.af www.arcs.af

Afghan Red Crescent Society

خزان سال ١۴٠٠ هـ.ش

# د بېوزلو
# پېښځېلو او بې ځایه شویو خلکو ستونزې
# د اندېښنې وړ دي

(سرلیک)

انسان یو ټولنیز مخلوق دی، چې په ګډ ژوند یې ټولنیز جوړښت رامنځته کړی، ترڅو د یو او بل په غم او ښادۍ کې شریک واوسي، د ستونزو او ناخوالو په وخت کې په خپلو کې د یو او بل مرسته او لاسنیوی وکړي، په خوشالۍ یې خوشاله او په غم یې غمجن شي. که چېرې دې مهمو ټکو او اصل ته پام ونشي، نو د انسان رسالت او اصالت تر پوښتنې لاندې راځي.

افغانستان کې جګړو او ناامنیو په دې وروستیو کلونو کې زیات شمېر کسان له خپل ټاټوبي بې ځایه کېدو ته اړ کړي. دغه بېځایه شوي کسان په وچه بېدیا او یا هم په نیمه ویجاړو کورونو، کنډوالو او پنډغالو کې له ټولو اړینو اسانتیاو پرته ژوند تېروي. دا په داسې حال کې ده، چې د ځینو سرچینو په وینا شپېته سلنه خلک د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. دوی له محرومیت، فقر، لوږې، بېوزلۍ او راز راز نورو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. د ژوند د لومړنیو اړتیاو د نه شتون تر څنګ یې ماشومان له ښوونې او روزنې بې برخې دي او روغتیایي اسانتیاو ته لاسرسی هم نلري.

له دغو ستونزو سره سره د ژمي په رارسېدو سره هوا او یخنۍ د هغوی ستونزې لا پسې زیاتوي، ځکه دوی نشي کولای ځان ته ګرمې جامې چمتو کړي، ترڅو د اوسېدو ځای تود وساتي او د باران او واورې پر وړاندې ځان خوندي کړي. په داسې حالت کې بوډاګان او ماشومان زیات زیانمنېدونکي وي، ځکه د هغوی د بدن مقاومت د یخنۍ پر وړاندې په خورا ټیټه کچه کې قرار لري. د نه پاملرنې له امله کېدای شي د دوی د مړینې کچه د ځوانانو په پرتله زیاته شي.

په داسې حالت کې د بېوزلو، زیانمنو او بې ځایه شویو کسانو شمېر ته په کتو یوازې یو یا څو خیریه ارګانونه یا سازمانونه د محدودو امکاناتو په درلودلو نشي کولای د هغوی ستونزو ته رسېده ګي او ځواب ووايي. پر

همدې بنسټ باید ملي او نړیوال خیریه بنسټونه، ملي سوداګر او ټول خیرپاله هېوادوال د دغو محتاجو او بېوزلو خلکو پر وړاندې د مسوولیت احساس وکړي، ورسره لازمې مرستې ترسره کړي او په دې توګه د الله سبحانه و تعالی ورکړې شتمنۍ د خیر رسونې په چارو کې مصرف کړي.

خبري رسنۍ هم باید په دې ډګر کې خپل رسالت درک کړي، د پېښو له امله د زیانمنو کسانو د ستونزمن ژوند ناوړه او ستونزمن حالتونه د راپورتاژونو، ګزارشونو او مصاحبو په بڼه خپاره کړي، ترڅو د چارواکو، خیریه بنسټونو، شتمنو او خیرپالو خلکو عواطف او احساسات د دوی پر وړاندې را وپاروي او په دې توګه هغوی دې ته وهڅوي، چې له هغوی سره د مرستې لپاره متې را ونغاړي.

هیله کېږي له دې وړاندې چې یخنې او سوړ ژمی زیانمنو، بې ځایه شویو او بېوزلو خلکو ته زیان ورسوي، باید چټک غبرګون وښودل شي، اړین اقدامات وشي او له هغوی سره لازمې او اړینې مرستې وشي؛ ترڅو د ناوړو او بدو پېښو مخنیوی وشي.

د افغانۍ سرې میاشتې ټولنې چې زمونږ د هېواد خیریه، ملي، ناپلوه او خپلواکه ټولنه ده؛ په تېرو کلونو کې تر خپله وسه په دې ډګر کې لازم او د ستاینې وړ اقدامات ترسره کړي او سږ کال هم چمتوالی لري، چې له بېوزلو، زیانمنو او بې ځایه شویو خلکو سره د ژمي له رارسیدو وړاندې د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره کړي، خو د اړو خلکو زیات شمېر ته په کتو؛ لازمه ده، چې ټول په ګډه په دې خیریه چارو کې د یو منظم کاري چوکاټ له مخې لازم اقدامات ترسره کړي. هغو کورنیو او کسانو ته لومړیتوب ورکړل شي، چې په ډېر ناوړه حالت کې ژوند تېروي او که پاملرنه ورته ونشي کیدای شي، چې د ژوند له تریخ او بد حالت سره مخ شي.

دا زمونږ انساني او اسلامي مکلفیت دی، چې د خپلو غریبو او بېوزلو همبنو پر وړاندې د مسوولیت احساس وکړو او تر خپلې وسې ورسره مرسته او لاسنیوی وکړو؛ ترڅو په دې ډول د هغوی رنځ او کړاو یو څه را کم کړو.

راځئ چې خپل دا کړېدلي، ځورېدلي او بې وسه ورونه او خویندې په دې ستونزمن حالت کې هېر نکړو او هر یو تر خپله وسه د هغوی مادي او معنوي ملاتړ وکړو؛ ترڅو خپل انساني او اسلامي مسوولیت او مکلفیت مو د هغوی په وړاندې ادا کړی وي.

( اداره)



# زنده گی نامه

## محترم مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی جمعیت هلال احمر افغانی

مولوی مطیع الحق خالص فرزند رهبر جهادی محترم مولوی محمد یونس خالص رحمه الله در سال ۱۳۴۰ شمسی در یک خانواده جهادی، روشنفکر و علم پرور در ولایت ننگرهار ولسوالی خوگیانی، قریه نکرخیل چشم به جهان گشود. محترم مولوی محمد یونس خالص از شخصیت های بارز، تأثیر گزار، عالم فرهیخته و از رهبران جهادی افغانستان بود که سال ها بمنظور اعلای کلمهٔ الله جهاد و مبارزه کرد.

مولوی مطیع الحق خالص دورهٔ تعلیم و تربیه خویش را نزد پدر و دو کاکای مهربانش محترم مولوی محمد یوسف و مولوی محمد اسحاق محق رحمهم الله آغاز نموده و تحصیلات متوسطه و ثانوی را نیز در قریهٔ نکر خیل فرا گرفت. وی بعد از کودتای نظام کمونیستی در افغانستان به کشور همسایه پاکستان هجرت نموده، دوره های متباقی تحصیلات عالی خویش را در مدارس مختلف صوبه سرحد پاکستان، سند لسانس را در دانشکدهٔ شرعیات از جامعه مدینه منوره کشور عربستان سعودی در سال ۱۹۸۸ م مطابق ۱۴۰۸ قمری برابر با سال ۱۳۶۵ شمسی و سند ماستری را در بخش تحقیقات اسلامی از پوهنتون پنجاب در شهر لاهور پاکستان، بدست آورد. وی در سال ۱۴۰۸ قمری مطابق ۱۳۶۵ شمسی نیز به صفت استاد در مدرسه الهجرت والجهاد در شمشتو در پشاور پاکستان مصدر خدمت گردید و نیز بصفت مسئول ارتباطات مؤسسات خارجی تعلیم و تربیه تنظیم جهادی (د افغانستان اسلامی حزب) ایفای وظیفه نمود. ولی، بنابر عشق و علاقهٔ که به جهاد و مبارزه داشت و نیز در خانواده مجاهد پرور بزرگ شده بود، هیچگاه صف جهاد و مبارزه را ترک نکرد و در خط نخست جهاد برای آزادی کشور دوشادوش مجاهدین بر علیه قشون سرخ کمونیستی و متحدانش جنگید تا پیروزی مجاهدین و شکست دشمنان دین و اسلام.

مولوی مطیع الحق خالص بر علاوه تحصیلات عالی حفظ قرآن عظیم الشأن را در سن ۵۵ سالگی تکمیل نموده و در سال های ۱۹۹۰ و ۱۹۹۱ م مطابق ۱۳۶۹ و ۱۳۷۰ شمسی دوره بزرگ کتب احادیث نبوی را در مدرسه امداد العلوم شهر پشاور فرا گرفته است که بر علاوه زبان مادری (پشتو)، به زبان های فارسی، عربی و اردو مهارت کامل دارد.

ایشان در سال ۱۴۱۲ ق مطابق ۱۳۷۲ شمسی در دوران قیام دولت اسلامی افغانستان در ولایت ننگرهار، بحیث معاون ریاست تعلیم و تربیه مقرر گردید و در زمان اشغال افغانستان توسط امریکا، نقش قدم پدر مرحومش را تعقیب نمود و راه جهاد را برگزید و در ترغیب و تشویق مجاهدین در این راه مقدس نقش بارز را ایفا نموده، بعد از مبارزه نظامی علیه حکومت امریکا و متحدانش در سال ۲۰۱۹ م مطابق ۱۳۹۸ شمسی عضو تیم مذاکراتی امارت اسلامی افغانستان در قطربا امریکا، عضو دفتر سیاسی قطر از جانب امارت اسلامی افغانستان و در سال ۱۳۹۹ شمسی عضو تیم مذاکراتی امارت اسلامی افغانستان با حکومت گماشته شد.

محترم مولوی مطیع الحق خالص به اساس فرمان شماره ۲۴ ج ۱ مؤرخ ۲۶ / ۲ / ۱۴۴۳ مطابق ۱۲ / ۷ / ۱۴۰۰ شمسی امیرالمؤمنین شیخ هبهٔ الله آخند زاده حفظه الله، بصفت سرپرست ریاست جمعیت هلال احمر افغانی تعین گردید که تا بحال در این نهاد خیریه در راستای خدمات بشردوستانه نقش مهم را از خود تبارز داده است.



## د افغاني سرې میاشتې
## د سرپرست عمومي رییس مولوي مطیع الحق خالص ژوندلیک

مولوي مطیع الحق خالص د ستر جهادي رهبر مولوي محمد یونس خالص رحمه الله زوی دی، چې په ۱۳۴۰ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت د خوږیاڼو ولسوالۍ په نکرخېلو کلي کې یې په یوه جهادي، روڼ اندي او علم پروره کورنۍ کې سترګې غړولې.
د ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص پلار ارواښاد مولوي محمد یونس خالص رحمه الله د افغانستان بارز، اغېزمن او د نړۍ په کچه ستر علمي او جهادي شخصیت و، چې کلونه کلونه یې د شوروي او امریکا د یرغلونو پر وړاندې د کلمة الله د لوړاوي په موخه جهادي مبارزه کړې.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص خپلې لومړنۍ زده کړې او روزنه له خپل پلار او دوه مهربانو ترونو (محترم مولوي محمد یوسف او مولوي محمد اسحاق محق رحمهما الله) څخه پیل کړې. منځنۍ زده کړې یې هم په خپل کلي کې ترسره کړې. نوموړی په افغانستان کې د کمونستانو له کودتا وروسته ګاونډي هېواد پاکستان ته کډوال شو او خپلې پاتې لوړې زده کړې یې د پاکستان په خیبر پښتونخوا ایالت کې وکړې. مولوي مطیع الحق خالص د لیسانس سند د سعودي عربستان له مدینې منورې پوهنتون څخه په ۱۳۶۵ لمریز کال کې، چې له ۱۴۰۸ سپوږمیز او ۱۹۸۸ زېږدیز کال سره سمون خوري؛ ترلاسه کړی او په اسلامي څېړنو کې د ماسټرۍ سند یې د پاکستان په لاهور ښار کې د پنجاب له پوهنتونه ترلاسه کړی.


نوموړی په ۱۴۰۸ سپوږمیز کال کې، چې له ۱۳۶۵ لمریز کال سره سمون خوري؛ د پاکستان په پېښور ښار کې په شمشتو کمپ کې په الهجرة والجهاد مدرسه کې استاد پاتې شوی او د افغانستان د اسلامي حزب د جهادي تنظیم له لوري له بهرنیو موسسو سره د زده کړو او روزنې په برخه کې د اړیکو مسوول هم پاتې شوی؛ خو دا چې له جهاد او مبارزې سره یې مینه ډېره وه او په یوه جهادپاله کورنۍ کې را لوی شوی و، نو ځکه یې کله هم د جهاد صف پرېښنبود او د کمونستانو او د هغوی د متحدینو پر وړاندې یې له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د جهاد په لومړۍ لیکه کې د اسلام، دین او مجاهدینو تر بریالیتوب پورې مبارزه وکړه.

محترم مولوي مطیع الحق خالص پر خپلو لوړو زده کړو سربېره په ۵۵ کلنۍ کې قران عظیم الشان هم حفظ کړی او په ۱۹۹۰ او ۱۹۹۱ زېږدیزو کلونو کې یې، چې له ۱۳۶۹ او ۱۳۷۰ لمریزو کلونو سره سمون خوري؛ د احادیثو ستره دوره د خیبر پښتونخوا په امدادالعلوم مدرسه کې ترسره کړه. نوموړی پر خپله مورنۍ پښتو ژبه سربېره په دري، عربي او اردو ژبو هم روانې خبرې کولی شي.

مولوي مطیع الحق خالص په ۱۳۷۲ لمریز کال کې، چې له ۱۴۱۲ سپوږمیز کال سره سمون خوري؛ د افغانستان د اسلامي دولت د قیام په موده کې د ننګرهار ولایت د ښوونې او روزنې د ریاست مرستیال پاتې شوی.

د امریکا له لوري د افغانستان له ښکېل کولو وروسته یې د خپل پلار پل تعقیب کړ او له امریکا سره یې په جهاد پیل وکړ. په دې لاره کې یې د مجاهدینو په ترغیب او تشویق کې ځرګند رول ترسره کړ او نظامي او مطبوعاتي مسوولیتونه یې پر غاړه لرل. د امریکا او د امریکا د متحدینو پر ضد له نظامي مبارزې وروسته په ۲۰۱۹زېږدیز کال کې، چې له ۱۳۹۸ لمریز کال سره سمون خوري؛ قطر کې له امریکا سره د مذاکراتو لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د مذاکراتي پلاوي غړی وټاکل شو. همدا مهال په قطر کې د افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر غړی هم و. په ۱۳۹۹ لمریز کال کې له حکومت سره د افغانستان د اسلامي امارت د مذاکراتي پلاوي غړی وټاکل شو.

محترم مولوي مطیع الحق خالص په ۱۴۴۳/۲/۲٦ سپوږمیزه نېټه، چې له ۱۴۰۰/۷/۱۲ لمریزې نېټې سره سمون خوري؛ د امیرالمومنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظ الله د ۲۴ ج ۱ ګڼه فرمان پر بنسټ د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رییس په توګه وټاکل شو، چې تر دا مهاله د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رییس په توګه په بشرپالو خدمتونو کې مهم رول ترسره کوي.



# د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې له سرپرست عمومي رییس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص سره مرکه

**پوښتنه**: د افغاني سرې میاشتې ټولنې ښاغلی عمومي سرپرست رییس صیب! د سرې میاشتې مجله په پام کې لري په دې ګڼه کې ستاسو نظریات د کاري پلانونو، کاري لومړیتوبونو او بشرپالو خدمتونو په اړه د عامه پوهاوي په موخه خپاره کړي. تاسې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د سرپرست عمومي رییس په توګه ددې ټولنې د هویت، موخو او اصولو څرنګه ارزونه کوئ؟

**ځواب** : څرنګه چې ټولو هېوادوالو ته جوته ده؛ افغاني سره میاشت په هېواد کې یواځنۍ خیریه ملي ټولنه ده، چې د څه لپاسه ۸۰ کلونو راپدېخوا د بېوزله هېوادوالو په چوپړ کې قرار لري او له طبیعي او غیرطبیعي پېښځپلو سره د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې بشرپال خدمات ترسه کوي. بې له شکه چې سره میاشت د نړۍ په کچه په ۱۲۹ هېوادونو کې منل شوې ټولنه ده او تر دمګړۍ یې د خپلو بشرپالو مرستو په سرته رسولو ښه هویت ترلاسه کړی. د افغاني سرې میاشتې ټولنې موخه په بېلابېلو برخو کې د بېوزلو هېوادوالو لاسنیوی دی، چې خپلې ټولې کړنې له اوه ګونو بنسټیزو اصولو سره سم پر مخ بیایي او له همدې امله یې ښه هویت ترلاسه کړی.

**پوښتنه**:په سره میاشت کې ستاسو کاري لومړیتوبونه کوم دي او ایا کومې داسې مشخصې برنامې په پام کې لرئ، چې پلې به یې

کړئ؟

**ځواب**: څرنګه چې ټولو هېوادوالو ته څرګنده ده؛ په دې وروستيو کې د فقر او غُربت کچه خورا لوړه شوې ده؛ زمونږ لومړيتوب د افغانانو د لاسنيوي لپاره د بډايه هېوادوالو، نړيوالې ټولنې او په ټوله کې د ملي مماثلو ټولنو تشويق او ترغيب دی، څو څومره ژر چې کولای شي له افغاني سرې مياشتې سره د خوراکي او غيرخوراکي توکو مرسته وکړي او پر مټ يې مونږ وکولای شوو د ژمي له رارسېدو مخکې هېوادوالو ته مرستې ترسره کړو.

په دويم قدم کې مو زياته پاملرنه د ناروغو هېوادوالو لپاره په کور دننه د روغتيايي اسانتياو برابرول او له افغاني سرې مياشتې سره کېدونکې روغتيايي مرستې په پوره شفافيت په بشپړ اخلاص اړو هېوادوالو ته رسول دي. همدا راز په پام کې لرو څو د بهرنيو سفرونو په ترڅ کې د نړيوالو پام افغانستان ته راواړوو؛ ترڅو له افغاني سرې مياشتې سره مرسته وکړي او مونږ يې بېوزلو ته توزيع کړو.

**پوښتنه**: د افغاني سرې مياشتې ټولنې خدمتونه او فعاليتونه پر کومو موخو متمرکز دي او په کوم ډول، چېرته او له کومو کسانو سره ترسره کېږي؟

**ځواب**: د افغاني سرې مياشتې ټولنې خدمتونه د بشري ناورين په راکمولو او د بېوزلو هېوادوالو په لاسنيوي پورې متمرکز دي. دا چې اوس مهال د غُربت کچه لوړه ده او ډېری هېوادوال مرستو ته اړتيا لري، نو د افغاني سرې مياشتې له لوري د سروې او ارزونې له پروسې وروسته د پېښو د رامنځ ته کېدو په وخت چې کوم کسان او کورنۍ مستحقې تثبيت شي؛ پرهغوی مرستې وېشل کېږي.

**پوښتنه**: د افغاني سرې مياشتې ټولنې امکانات او د بېوزلو او پېښځپليو کسانو اړينې اړتياوې، توقعات او غوښتنې څرنګه ارزوئ؟

**ځواب**: څرنګه چې ټولو ته جوته ده افغاني سره مياشت د دولت بودجوي غړيتوب نه لري او د خيريه اشخاصو، د ګمرکاتو له فيصدۍ او د سرې مياشتې د املاکو له کرايې خپلې کړنې سرته رسوي، خو په ځينو حالاتو کې د اضطرار له ناستې سره سم له دولت سره مرستندويه اداره هم ده. دا چې د هېوادوالو توقعات او اړتياوې ډېرې دي، نو مونږ تر ډېره حده زيار باسو، چې له بېلابېلو لارو وکولای شوو د بېوزلو هېوادوالو لاسنيوی وکړو.

**پوښتنه**:نړيوال فدراسيون، چې د سرې مياشتې کاري ګډونوال هم بلل کېږي؛ په کومو مشخصو ډګرونو کې له سرې مياشتې سره مرستې او همکاري کوي او تاسو ته د ډاډ وړ دي؟

**ځواب**:نړيوال فدراسيون چې د سرې مياشتې کاري شريک هم دی؛ په بېلابېلو برخو کې له سرې مياشتې سره مرستې او همکاری کوي، د پروګرامي رياستونو په ورځنيو او تخنيکي چارو کې مالي او معنوي

مرستې کوي او تل يې په دوه اړخيزو او درې اړخيزو ناستو کې د هر راز مرستو ډاډ راکړی.

**پوښتنه**: په ټوليزه توګه د افغاني سرې مياشتې ټولنې او نورو خيريه بنسټونو ترمنځ کوم توپيرونه شتون لري، چې سره مياشت له نورو غير دولتي بنسټونو جلا کوي؟

**ځواب**: افغاني سره مياشت په هېواد کې يوازېنۍ خيريه ملي ټولنه ده، چې د ۱۹۲ هېوادونو له لوري د غورځنګ د غړي په توګه په رسميت پېژندل شوې، د غورځنګ له نړيوالو اوه ګونو اصولو سره سم خپلې چارې پر مخ وړي؛ د دولت بودجوي واحد ندی، د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې څانګې لري، څه لپاسه ۲۰۰۰۰ رضاکاران لري او د هېواد په ګوټ ګوټ کې په لږ وخت کې کولای شي خپلې مرستې په پوره ډاډ سرته ورسوي.

**پوښتنه**: ستاسو ليدلوری چې څرنګه يوه معياري ملي ټولنه ولرو، کوم دي؟

**ځواب**: زه غواړم چې کار اهلِ کار ته وسپارل شي، د سرې مياشتې له جايدادونو سمه او په ښه توګه ګټه واخستل شي او سره مياشت وکولای شي له خپلو عوايدو د هېوادوالو لاسنيوی وکړي.

**پوښتنه**: د افغاني سرې مياشتې ټولنه يوه ناپلوې او خپلواکه خيريه ملي ټولنه ده، چې د افغانستان د اسلامي امارت په بودجوي واحد کې ونده نلري؛ دا ټولنه د خپلو بشرپالو خدمتونو لګښتونه له کومو سرچينو تمويلوي؟

**ځواب** : مخکې مې هم وويل، چې د افغاني سرې مياشتې ټولنې عوايد د بډايه هېوادوالو مرستې، د ګمرکاتو فيصدي، د پاسپورت فيصدي، د حاجيانو مرستې، د څانګړې اونۍ عوايد، د جايدادونو کرايې او د ملي مماثلو ټولنو مرستې دي.

**پوښتنه**: اوسني وضعيت ته په کتو افغاني سره مياشت د خپلو بشرپالو خدمتونو په پرمخ وړلو کې له کومو ستونزو او خنډونو سره مخ ده او د حل لاره يې څرنګه ارزوئ؟

**ځواب**: الحمدلله کومه خاصه ستونزه وجود نلري؛ مماثلې ملي ټولنې او نړيوالې ټولنې له مونږ سره په پوره همغږۍ کار کوي؛ کوښښ کوو، چې مرسته کوونکي نور هم را جلب کړو او د شفافيت پر مټ د دوی رضائيت لاسته راوړو.

**پوښتنه**: د افغاني سرې مياشتې له کارکوونکو، رضاکارانو او غړو کومه توقع، له خلکو کومې غوښتنې او بېوزلو، پېښځپليو او بېځايه شويو خلکو ته کومې ژمنې لرئ؟

**ځواب**: په ټولو کارکوونکو، رضاکارانو او غړو غږ کوم، چې په خپلو کړنو کې صداقت او ريښتينولۍ ته اولويت ورکړئ او بېوزله هېوادوالو ته وعده ورکوم، چې د توان تر حده به په ملي او نړيواله کچه ستاسې د لاسنيوي په موخه د مرستو په راجلبولو کې زيار باسم؛ ترڅو وکولای شوو ستاسو لاسنيوی وکړو.



# ښاغلی مولوي مطیع الحق خالص د افغاني سرې میاشتې ټولنې د سرپرست رییس او ښاغلی ملا نورالدین ترابي د سرپرست مرستیال په توګه معرفي شول

د روان ۱۴۰۰ لمریز کال د تلې پر ۱۷مه نېټه د امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخند زاده حفظ الله د ۲۴ج۱ فرمان پر بنسټ، چې پر ۱۴۰۰/۷/۱۲ لمریز تاریخ چې له ۱۴۴۳/۲/۲۶ سپوږمیزې نېټې سره سمون خوري، د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست رییس ښاغلی مولوي مطیع الحق خالص د افغاني سرې میاشتې د سرپرست مرستیال ښاغلي ملا نورالدین ترابي، سکرترجنرال ښاغلي ډاکتر محمد نبي برهان، د سکترجنرال د مرستیالانو، د مرکزي دفتر د رییسانو، کارکوونکو او رضاکارانو په شتون کې د چارو د ادارې د مرستیال ښاغلي شیخ مولوي نورالحق انور له لوري د افغاني سرې میاشتې ټولنې د عمومي ریاست د سرپرست په توګه معرفي شو.

د غونډې په پیل کې د قران عظیم الشان د خو مبارکو آیتونو له تلاوت وروسته د چارو ادارې مرستیال ښاغلي شیخ مولوي نورالحق انور په ملي او دولتي ادارو کې د ټاکنو په اړه د مالوماتو د ورکړې ترڅنګ د افغاني سرې میاشتې ټولنې د سرپرست رییس په توګه د ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د ګمارنې په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د عالیقدرامیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله پیغام ولوست.

وروسته د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست رییس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د هېواد په موجوده وضعیت او همدارنګه د افغاني سرې میاشتې ټولنې پر ونډه او فعالیتونو خبرې وکړې. نوموړي په خپلو خبرو کې وویل:" موږ به هڅې او کوښښونه وکړو ترڅو د سرې میاشتې له لوري د هېواد تر ټولو ډېر اړمن او پېښځپلي قشر ته لا ډېرې بشرپاله مرستې ورسوو"

نوموړي وویل، چې دی به




ښاغلی ملا نورالدین ترابي د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرستیال

د افغاني سرې میاشتې په چوکاټ کې د بشپړ شفافیت رامنځ ته کولو ته کار وکړي او څوک چې درغلي وکړي، نو هغوی ته بیا یا د زندان لاره په مخ کې وي او یا د کور. غونډه د خیر او ښېرازۍ په دعایې سره پای ته ورسیده.

همدا ډول د روان ۱۴۰۰ لمریز کال د تلې پر ۱۴ مه نېټه د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست مرستیال ښاغلی الحاج ملا نورالدین ترابي د افغاني سرې میاشتې ټولنې د یو شمېر کاري شریکانو، د مرکزي دفتر د رییسانو، کارکوونکو او رضاکارانو په شتون کې د عمومي ریاست د سرپرست مرستیال په توګه د امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظ الله د ۲۴ج۱ فرمان پر بنسټ، چې پر ۱۴۰۰/۷/۱۲ لمریز تاریخ چې له ۱۴۴۳/۲/۲۶ سپوږمیزې نېټې سره سمون خوري، معرفي شو.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرستیال ښاغلي ملا نورالدین ترابي په خپلو خبرو کې وویل، چې: " سره میاشت د هېواد د یوازینۍ ملي او بشرپال بنسټ په توګه په ټول هېواد کې د اړمنو او طبیعي او غیر طبیعي پېښځپلو د لاسنیوي په موخه فعالیت کوي او زه ژمنه کوم؛ ترڅو یادې مرستې لا ډېرې او پر وخت اړو او مستحقو کسانو ته ورسوو".

ښاغلي ترابي زیاته کړه چې:"زه هڅه کوم د وزارت له تېرې دورې او شته تجربو په ګټې اخستنې د سرې میاشتې له لارې خپلو هېوادوالو ته لا غوره او پر وخت خدمتونه وړاندې کړم". نوموړي د غونډې ګډونوالو ته د بشرپاله خدمتونو په وړاندې کولو کې له هر ډول تبعیض څخه په ډډه ټینګار وکړ.

# مولوی مطیع الحق خالص سر پرست جمعیت هلال احمر افغانی با معاون دوم رئیس الوزرا محترم ملا عبدالسلام حنفی ملاقات کرد





محترم مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی جمعیت افغانی سره میاشت با محترم ملا عبدالسلام حنفی معاون دوم رئیس الوزرا امارت اسلامی افغانستان بتاریخ ۲۰ عقرب سال روان ملاقات نمود. در این ملاقات تمرکز طرفین در مورد موضوعات مرتبط به جمعیت هلال احمر افغانی بوده که پیرامون مشکلات، چالش ها و راه های حل آن مباحثه صورت گرفت.

معاون دوم رئیس الوزرا امارت اسلامی افغانستان وعده سپرد تا برای رفع مشکلات این نهاد خیریه اقدامات لازم را روی دست گیرد تا برای فعالیت های هر چه بهتر و بیشتر جمعیت ملی زمینه ها و تسهیلات لازم مساعد گردد.

متقابلاً سر پرست جمعیت افغانی سره میاشت از توجه و حسن نظر معاون دوم رئیس الوزرا امارت اسلامی افغانستان در مورد حل مشکلات و چالش ها اظهار قدر دانی و سپاس نمود.



# د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست عمومي رییس پاکستان ته له افغانانو سره د مرستې د جلب په موخه سفر وکړ

د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست عمومي رییس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د یو پلاوي په مشرۍ پاکستان هېواد ته د روان ۱۴۰۰ لمریز کال د لېندۍ پر ۱۵مه نېټه، چې د ۱۴۴۳ سپوږمیز کال د جمادی الاول له لومړۍ نېټې سره سمون لري؛ له افغانانو سره د مرستې د جلب په موخه سفر وکړ.

د یاد سفر بنسټیزه موخه د پاکستان هېواد له مرستندویه ټولنو سره هر اړخیزې خبرې، په افغانستان کې د خیریه فعالیتونو لپاره د دوی پاملرنې راجلبول او افغانانو ته د خیریه چارو زیاتول او وده ورکول وو؛ ترڅو له همدې لارې د بېوزله هېوادوالو لاسنیوی وشي.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست عمومي رییس او ورسره پلاوي د خپل سفر په لړ کې د روان ۱۴۰۰ لمریز کال د لېندۍ پر ۱۶مه نېټه، چې د ۱۴۴۳ سپوږمیز کال د جمادي الاول له ۲مې نېټې سره سمون لري؛ د پاکستان د سرې میاشتې له عمومي رییس ښاغلي ابرارالحق، مرستیال آصف باجوه او سکرتر جنرال ډاکتر عدیل نواز سره په اسلام اباد کې د پاکستان د سرې میاشتې په مرکزي دفتر کې لیدنه وکړه. په یاده ناسته کې د هغو افغان ماشومانو په اړه دوه اړخیزې خبرې وشوې، چې زړونه یې سوري دي.

همدا ډول د پاکستان سرې میاشتې ټولنې د یو لړ نورو خیریه فعالیتونو ترڅنګ ژمنه وکړه، چې له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره به د خوراکي توکو مرسته هم کوي.

د یادې لیدنې په سبا د افغاني سرې میاشتې

سرپرست عمومي رییس محترم مولوي مطیع الحق خالص د ۱۴۰۰ لمریز کال د لیندۍ پر ۱۷مه، چې له ۱۴۴۳/۵/۳ سپوږمیزې نېټې سره سمون خوري؛ د بیت السلام د سترې خیریه ټولنې له عمومي مسوول شیخ عبدالستار سره هم لیدنه ترسره کړه.

په دې لیدنه کې د افغانستان د خلکو پر ستونزو او ورسره د همکاریو پر زیاتولو او همدارنګه د صعب العلاج او د سورې زړه پر ناروغیو د اخته ناروغانو د درملنې په اړه خبرې وشوې. د بیت السلام خیریه ټولنې عمومي مسوول شیخ عبدالستار د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست عمومي رییس محترم مولوي مطیع الحق خالص ته ډاډ ورکړ او ژمنه یې وکړه، چې له افغاني سرې میاشتې سره به په دې اړه هر ډول همکاري کوي.

د بیت السلام له مسوولینو سره له لیدنې دوه ورځې وروسته د افغاني سرې میاشتې عمومي سرپرست رییس د ۱۴۰۰لمریز کال د لیندۍ پر ۱۹مه، چې له ۱۴۴۳/۵/۵ سپوږمیزې نېټې سره سمون خوري؛ په لاهور ښار کې د الخدمت بنسټ له مشر محترم عبدالشکور او غړو سره د الخدمت بنسټ په مرکزي دفتر کې لیدنه ترسره کړه. په دې لیدنه کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس محترم مولوي مطیع الحق خالص افغانستان ته د الخدمت بنسټ له لوري په تېر کې د رالېږلو مرستو د مننې په ترڅ کې د الخدمت بنسټ له مسوولینو وغوښتل، چې د خوراکي موادو تر څنګ روغتیا او پاکو اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د افغانانو لاسنیوی وکړي او د ژمي لپاره افغانستان ته خپلې ژمنۍ مرستې را ولېږي. د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس د الخدمت بنسټ له مشر څخه وغوښتل، چې هغو ناروغانو ته د پاکستان روغتونونو ته د ورتګ په لاره کې پراته خنډونه هوار کړي، چې غواړي د افغاني سرې میاشتې له لوري یې په پاکستان هېواد کې درملنه وشي. د الخدمت بنسټ مسوولینو ژمنه وکړه، چې دوی به په یادو برخو کې افغاني سرې میاشتې ته لاس ورکوي او خپلې مرستې به افغانستان ته رالېږي.

د افغاني سرې میاشتې سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص د دې سفر پر مهال د لیندۍ پر ۲۳مه نېټه، چې له ۱۴۴۳/۵/۹سپوږمیزې نېټې سره سمون خوري؛ په پاکستان کې د رابطة العالم الاسلامي او هیئة الاغاثة الاسلامي له مشر استاد سعد الحارثي سره هم لیدنه ترسره کړه.

په یاده لیدنه کې له افغانستان سره د رابطة العالم الاسلامي او هیئة الاغاثة الاسلامي له لوري د مرستو پر کولو خبرې او بحث وشو. د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس له استاد سعد الحارثي څخه غوښتنه وکړه، چې رابطة العالم الاسلامي او هیئة الاغاثة الاسلامي دې له افغانستان سره مرسته وکړي او یادې مرستې دې د افغاني سرې میاشتې له لوري بېوزله او اړمنو افغانانو ته ورسول شي. استاد سعد الحارثي ژمنه وکړه، چې دوی به افغانستان ته خپلې مرستې پیل کړي او پیل به یې هم د ملک سلمان د خیریه مرستو له رالېږلو وکړي.

د محترم مولوي مطیع الحق خالص او ورسره پلاوي یاد سفر د روان کال د لیندۍ پر ۲۷ مه پای ته ورسید او له رسېدو سره یو ځای یې پاکستان کې د رابطة العالم الاسلامي له مشر د ژمنه کړو مرستو لومړۍ جوپه په کابل هوایي ډګر کې د ملک سلمان خیریه بنسټ له مشرانو او د سعودي عربستان له سفیر استاد مشعل الشمري تر لاسه کړه.



# تداوم فعالیت های کمیته بین المللی صلیب سرخ با جمعیت هلال احمر افغانی

محترم مولوی مطیع الحق خالص، سرپرست ریاست عمومی جمعیت هلال احمر افغانی با محترم کریستن چیپولا، رئیس زون آسیا کمیته بین المللی صلیب سرخ، محترم ایلوا فیلیون رئیس کمیته صلیب سرخ در افغانستان و محترمه رابرتا، رئیس کوپریشن کمیته صلیب سرخ در حضور داشت محترم داکتر محمد نبی برهان - سکرترجنرال جمعیت ملی بتاریخ ۲۹ میزان ملاقات نمود.

در این ملاقات پیرامون توسعه و تداوم فعالیت های بشردوستانه و ماموریت ۴۰ ساله کمیته بین المللی صلیب سرخ در افغانستان تاکید صورت گرفت.

# سرپرست عمومي رييس د لوړو زده کړو له وزيره وغوښتل، چې

## د سرې میاشتې کارکوونکو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي



د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست عمومي رييس ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو زده کړو له سرپرست وزير ښاغلي شيخ عبدالباقي حقاني سره د روان ۱۴۰۰ لمريز کال د لړم د میاشتې په ۴مه نېټه په خپل کاري دفترکې وليدل.

په یاده ليدنه کې د افغاني سرې میاشتې عمومي رييس او د لوړو زده کړو سرپرست وزير د بېلابېلو موضوعاتو ترڅنګ د سرې میاشتې د کارکوونکو د لوړو زده کړو په اړه هم خبرې اترې وکړې. د لوړو زده کړو سرپرست وزير د سرې میاشتې هغو کارکوونکو ته د لوړو زده کړو د زمینې د برابرولو ژمنه وکړه، چې د لوړو زده کړو لیوالتیا لري.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست رييس ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص د لوړو زده کړو له وزير ښاغلي شيخ عبدالباقي حقاني څخه مننه وکړه، چې سرې میاشتې ته يې تشريف راوړی و او د افغاني سرې میاشتې کارکوونکو د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو کې يې د مرستو ژمنه وکړه.

# الخدمت خیر یه بنسټ له افغاني سرې میاشتې سره د زړه په سوري د اخته ناروغو ماشومانو په درملنه کې مرسته کوي

د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې سرپرسـت رییـس ښـاغلي مولـوي مطیـع الحـق خالـص د الخدمـت خیریـه بنسـټ لـه مشـرتابه ښـاغلي پروفیسـور حفیـظ الرحمـن او د یـاد بنسـټ د خیبرپښـتونخوا د څانګې لـه مشـر ښـاغلي خالـد وقـاص او ورسـره پـلاوي سـره د روان ۱۴۰۰ لمریـز کال د تلـې میاشـتې پـه ۲۰ مـه نېټـه پـه خپـل کاري دفتـر کـې ولیـدل.

پـه دې لیدنـه کـې لـه افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې سـره د یـاد خیریـه بنسـټ لـه لـوري پـه بېلابېلـو برخـو کـې د مرسـتو پـه اړه مفصلـې خبـرې وشـوې. الخدمـت خیریـه بنسـټ ژمنـه وکـړه، چـې دوی بـه لـه افغانـي سـرې میاشـتې سـره د زړه پـه سـوري د اختـه ناروغـو ماشـومانو او همدارنګـه د روانـي ناروغانـو پـه درملنـه او پالنـه کـې مرسـته کـوي.

پـه دې ناسـته کـې د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې سرپرسـت رییـس مولـوي مطیـع الحـق خالـص لـه لـوري د الخدمـت بنسـټ مشـرتابه تـه د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې پـه نښـان مزینـه ډالـۍ هـم ورکـړل شـوه.



سرپرست ریاست عمومی جمعیت افغانی سره میاشت در ملاقات با رئیس فدراسیون بین المللی صلیب سرخ و هلال احمر اظهار داشت:

## " تلاش می نمائیم تا مواد مساعدت شدهٔ فدراسیون را به اسرع وقت به افراد مستحق قبل از فرا رسیدن هوای سرد زمستان توزیع نمائیم"

سرپرست ریاست عمومی جمعیت افغانی سره میاشت محترم مولوی مطیع الحق خالص با محترم نسیفور رئیس فدراسیون بین‌المللی جمعیت های ملی صلیب سرخ وهلال احمر در کابل و محترم نلسن معاون اداره متذکره بتاریخ ۱۹ عقرب در دفترکارش ملاقات نمود.

در جریان نشست، سرپرست جمعیت ملی در مورد فعالیت های بهتر جمعیت ملی، دسترسی ورسیده گی به مشکلات مردم نیازمند کشور صحبت های همه جانبه نمود و در مورد کار کرد مشترک و همآ هنگی کامل با فدراسیون بین‌المللی ودستگیری نیاز مندان تاکید کرد.

رئیس فدراسیون بین‌المللی در کابل اظهار کرد: " ما اراده داریم طی دو هفته آینده یک مقدار مواد خوراکی را در اختیار جمعیت هلال احمر افغانی قرار دهیم و درآینده مصمم هستیم که تمامی مواد خوراکی را از داخل افغانستان تهیه وخریداری نمائیم"

این اقدام از طرف سرپرست جمعیت ملی مورد ستایش قرار گرفت و اظهارداشت که این کار باعث رشد اقتصاد در کشور می شود.

موصوف اضافه کرد، ما سعی وتلاش می نمائیم تا مواد مساعدت شده فدراسیون بین‌المللی را به اسرع وقت به افراد مستحق قبل از فرا رسیدن هوای سرد زمستان توزیع نمائیم. در اخیر مولوی مطیع الحق خالص اظهار داشت: "سعی و تلاش بر آن است تا افراد مجرب و کار فهم بمنظور توسعه فعالیت ها در جمعیت ملی توظیف گردد.





نماینـده حـوادث جهانـی کشـور ترکیـه در ملاقـات بـا سـر پرسـت جمعیـت افغانـی سـره میاشـت:

# از همکاری با جمعیت افغانی سره میاشت در راستای کمک به نیازمندان در افغانستان اطمینان بخشید

محتـرم مولـوی مطیـع الحـق خالـص سرپرسـت ریاسـت عمومـی سـره میاشـت بـا نماینـده اداره بیـن المللـی حـوادث کشـور ترکیـه محتـرم برهـان اسـلان و نماینـده هـلال احمـر ترکیـه در افغانسـتان محتـرم فریـد احمـد ضیـا به تاریـخ ۹ قـوس ۱۴۰۰ هجـری شمسـی در دفتـر کارش ملاقـات نمـود.

سرپرسـت ریاسـت عمومـی سـره میاشـت در ایـن ملاقـت گفـت: مـا سـعی و تـلاش مـی نماییـم بـا هماهنگـی و همـکاری هـلال احمـر ترکیـه خدمـات بشـر دوسـتانه را انجـام دهیـم و ایـن کار بـه هماهنگـی و صداقـت کامـل نیـاز دارد کـه بـه هـلال احمـر ترکیـه در ایـن راسـتا اطمینـان میدهیـم.

متقابـلاً محتـرم برهـان اسـلان نماینـده حـوادث جهانـی کشـور ترکیـه گفـت: "افتخـار داریـم کـه بـا همـکاری و هماهنگـی هـلال احمـر افغانـی مشـترکاً در راسـتای دسـتگیری نیازمنـدان در افغانسـتان فعالیـت مـی نمایـم" ایشـان افـزود: "جـای خوشـبختی و مسـرت اسـت کـه وضعیـت امنیتـی در افغانسـتان نسـبت بـه گذشـته بهتر شـده اسـت و امکانـات رسـانیدن مسـاعدت هـا در نقـاط مختلـف کشـور بـه سـهولت مـی انجامـد، روی همیـن ملحـوظ بـه تمـام مؤسسـات و نهـاد هـای خیریـه در کشـور ترکیـه اطمینـان داده ایـم".

موصـوف عـلاوه کـرد:" مـا خواسـتار افزایـش همـکاری و هماهنگـی هرچـه بیشـتر بیـن جمعیـت هـای ملـی مماثـل (هـلال احمـر ترکیـه و هـلال احمـر افغانـی) هسـتیم و ایـن کار بـرای مـا باعـث افتخـار و خوشـنودی میباشـد. مـا بـرای ارزیابـی وضعیـت اقتصـادی افغانسـتان آمـده ایـم و مـی خواهیـم توجـه کشـور ترکیـه و نهـاد هـای خیریـه کشـور ترکیـه را بـرای افغانسـتان جلـب نماییـم"

سرپرسـت جمعیـت افغانـی سـره میاشـت گفـت:" شـکر خداونـد لایـزال را بجـا مـی آوریـم کـه در کشـور عزیـز مـا افغانسـتان صلـح و امنیـت برقـرار گردیـده اسـت و تمـام نهـاد هـای خیریـه مـی تواننـد مسـاعدت هـای خویـش را بـه کمـال اطمینـان انجـام دهنـد مـا از تمـام نهـاد هـای خیریـه خواهـش مـی کنیـم تـا بـا اسـتفاده از فرصـت خـوب و فضـای امـن در افغانسـتان مسـاعدت هـای خویـش را اغـاز و وسـعت بخشـند"

# موسسه دهکده صلح آلمان ۲۰۰۰ بسته مواد خوراکی را به جمعیت افغانی سره میاشت مساعدت نمود




محترم ملا نورالدین ترابی معاون جمعیت افغانی سره میاشت با نماینده گان موسسه دهکده صلح آلمان محترم کلودی پیپمولر و خانم جانجیسینبه تاریخ ۲۰ قوس ۱۴۰۰ هجری شمسی مطابق ۶ جماد ی الاول ۱۴۴۳ هجری قمری در دفتر کارش ملاقات نمود .

در این ملاقات معاون جمعیت هلال احمر افغانی ضمن خوش آمدید از خدمات ۳۵ ساله دکتوران دهکده صلح آلمان و تیم همکار شان در کابل در راستای تداوی بیماران استخوان شکن و سوختگی شدید که اضافه تر از ده هزار طفل را به شکل رایگان تداوی و معالجه نموده اند، سپاسگزاری نمود.

معاون جمعیت هلال احمر افغانی از مساعدت اخیر ۲۰۰۰ بسته مواد خوراکی دهکده صلح آلمان به جمعیت افغانی سره میاشت قدر دانی نموده خواستار ادامه همکاری بیشتر گردید.

متقابلاً نماینده گان موسسه دهکده صلح آلمان از مهمان نوازی معاون جمعیت هلال احمر افغانی تشکری نموده و از ادامه و گسترش همکاری های شان اطمینان بخشیدند.

در اخیر سند مساعدت ۲۰۰۰ بسته مواد مساعدت شده از طرف نماینده گان دهکده صلح آلمان به معاون جمعیت هلال احمر افغانی تسلیم داده شد .

# شعر او ادب

## نه ښایي انسان ته

ژاړي په غمونو کې خواخوږي له هر چا سره
سل پتنګان سوځي د یوې شمعې ژړا سره
ډک زړګی له اوښکو ګرځي وریځې په اسمان کې بیا
څه ژړا ملګرې ده د ژوند یوې بریښنا سره
ټول باغ ژړیدلی ځکه اوښکې دي د ګل په مخ
ډېر لکه لاله داغلي زړونه شته صحرا سره
نه ښایي انسان ته چې د بل په غم غمجن نشي
لویه بدبختي ده که څوک نه ژاړي له چا سره
داسې بې غمي دې خدای په هیڅ کور کې پیدا نکړي
یو کور کې چې ویر وي او بل خاندي له لیلا سره

ګل پاچا- الفت

# شعر و ادب

## بخشش و انفاق

از آن بزمت چنین کردند روشن
که بخشی نور، بزم بی ضیا را
از آن بازوت را دادند نیرو
که گیری دست هر بی دست و پا را
از آن معنی طبیبت کرد گردون
که بشناسی ز هم درد و دوا را
مشو خودبین، که نیکی با فقیران
نخستین فرض بودست اغنیا را
ز محتاجان خبر گیر، ای که داری
چراغ دولت و گنج غنا را
بوقت بخشش و انفاق، پروین
نباید داشت در دل جز خدا را

پروین اعتصامی




# د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرستیال ښاغلي الحاج ملا نورالدین ترابي په میدان وردګ، غزني، زابل، کندهار، ارزګان او هلمند ولایتونو کې د سرې میاشتې د فعالیتونو لیدنه وکړه

د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې د سرپرسـت مرسـتیال ښـاغلي مـلا نورالدیـن ترابـي پـه مشـری پـلاوي، چـې پـه ترکیـب کـې یـې د دغـې ټولنـې د مرکـزي دفتر مسـلکي غـړي شـامل وو؛ د ۱۴۴۳ سـپوږمیز کال د ربیـع الاول د میاشـتې لـه ۱۷ مـې نېټـې څخـه د ربیـع الثانـي تـر ۳ مـې نېټـې پـورې د میـدان وردګ، غزنـي، زابـل، کندهـار، ارزګان، هلمنـد او سـویل لویدیـځ زون د سـرې میاشـتې د ریاسـتونو د دفترونـو لیدنـه وکـړه، د یـادو ریاسـتونو اداري، مسـلکي او پروګرامـي چـارې یـې و ارزولـې، د کارکوونکـو او بېلابېلـو څانګـو اجـرآت یـې و څېـړل او د هغـوی سـتونزې او وړاندیزونـه یـې واوریـدل.

ښـاغلي ترابـي او ورسـره مـل پـلاوي لومـړی د میـدان وردګ ولایـت د سـرې میاشـتې د ریاسـت لیدنـه د روان ۱۴۴۳ سـپوږمیز کال د ربیـع الاول پـر ۱۷ مـه نېټـه وکـړه.

نومـوړي پـه یـاد ولایـت کـې د کاري څانګـو لـه مسـوولینو سـره ناسـته وکـړه، چـې پـه کـې د مالـي او اداري چـارو، املاکـو، عوایـدو، پېښـو، روغتیایـي خدمتونـو، ځوانانـو، رضاکارانـو، غړیتـوب سیسـتم، کلـوپ او خپرونـو مسـوولینو د خپلـو کاري چـارو، سـتونزو، نیمګړتیـاو، شـته امکاناتـو او بشـرپالو اړتیـاو او وړاندیزونـو پـه اړه معلومـات وړانـدې کـړل. ښـاغلي ترابـي د چـارو د سـمون پـه موخـه مسـوولینو تـه لازمـې لارښـوونې وکـړې او د امـکان تـر بریـده یـې د سـتونزو د لـرې کولـو او د امکاناتـو د برابرولـو ژمنـه وکـړه .

ښـاغلي ترابـي پـه دې ناسـته کـې د وینـا پـر مهـال وویـل" د طبیعـي او غیـر طبیعـي پېښـځپلو د غـوره لاسـنیوي پـه موخـه بایـد د سـرې میاشـتې ټولـې څانګـې او پروګرامونـه منظـم، پـه ښـو امکاناتـو سـمبال او پـه خپلـو ورځنیـو بشـرپاله کړنو کـې د سـرې میاشـتې اصولـو تـه ځانګـړې پاملرنـه وکـړي؛ ترڅـو وکـولای شـوو خپلـې چـارې پـه بشـپړې ځواکمنتیـا سـره سـرته ورسـوو."

د افغانـي سـرې میاشـتې ټولنـې مرسـتیال ښـاغلي مـلا نورالدیـن ترابـي لـه میـدان وردګ ولایـت وروسـته د روان ۱۴۴۳ سـپوږمیز کال د ربیـع الاول پـر ۱۸ مـه نېټه د غزنـي ولایـت د سـرې میاشـتې لیدنـه وکـړه.



په یاده لیدنه کې ښاغلي ترابي په غزني ولایت کې د سرې میاشتې له ولایتي مسوولینو او کارکوونکو سره هم غونډه وکړه. په غونډه کې د بېلابېلو کاري څانګو مسوولینو د خپلو کاري چارو، شته امکاناتو، نیمګړتیاو او ستونزو په هکله هر اړخیز معلومات ورکړل، چې د ښاغلي ترابي لخوا په غور سره وارزول شول، د شته ستونزو د حل په موخه یې اړونده څانګو ته لازم هدایات ورکړل او ژمنه یې وکړه، چې د یادې نماینده ګۍ ستونزې به ژر تر ژره حل کړي.

ور پسې ښاغلي ترابي د غزني ولایت د سرې میاشتې روغتیایي کلینیک، املاکو او اداري څانګو لیدنه هم وکړه. نوموړي له غزني ولایت وروسته، په ۱۹-۱۴۴۳/۳/۲۰ سپوږمیز نېټو د زابل ولایت د سرې میاشتې ټولې اداري، مسلکي او پروګرامي چارې بررسي کړې، د کارکوونکو او بېلابېلو څانګو اجرآت یې و څېړل او د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل. د یو شمېر ستونزو او نیمګړتیاو د سمون په خاطر یې د کاري څانګو مسوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې او د امکان تر بریده یې د امکاناتو د برابرولو ژمنه هم وکړه.

د زابل په ولایت کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ولایتي څانګې د ریاست او مدیریتي اداراتو ودانۍ هم د ښاغلي ملا نورالدین ترابي او ورسره پلاوي لخوا د ځانګړو مراسمو په ترخ کې پرانستل شوه.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې سرپرست مرستیال ملا نورالدین ترابي د زابل په ولایت کې د سرې میاشتې د فعالیتونو له ارزونې وروسته په ۱۴۴۳/۳/۲۲ سپوږمیز نېټه د کندهار په ولایت کې د سویل لویدیځ زون د ساحوي همغږۍ ریاست ټولې اداري، مسلکي او پروګرامي چارې او د هغوی مسوولین ولیدل. د چارو د لا سمون او پرمختګ په موخه یې مسوولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې او د شته ستونزو او نیمګړتیاو د حل ژمنه یې وکړه.

ښاغلي ترابي پر ۱۴۴۳/۳/۲۵ سپوږمیز نېټه د کندهار ولایت د افغاني سرې میاشتې ټولنې د نمایندګۍ لیدنه هم وکړه او د یوې ناستې په ترخ کې یې د مالي او اداري چارو، املاکو، پېښو، روغتیایي خدمتونو، ځوانانو او رضاکارانو، کلوپ، غږیتوب سیستم او خپرونو څانګو کاري بهیر د یادو څانګو د مسوولینو له لخوا واورید.

ښاغلي ترابي د چارو د سمون او سمبالښت په موخه مسوولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې او په خپله وینا کې یې وویل، چې د افغاني سرې میاشتې ټولنې هغه املاکات، چې د زورواکانو له خوا په جبر او

زور نیول شوي او یا یې په کم لګښت په کرایه نیولي او ملي ټولنې ته یې ستونزې جوړې کړې دي؛ موږ به یادو ستونزو ته ژر تر ژره د حل لارې پیدا کړو او پرې د خپل واک تر راوستلو وروسته به یې په مناسبه بیه په کرایه ورکړو؛ ترڅو وکولای شوو د سرې میاشتې زېرمې پیاوړې او د هېوادوالو ښه لاسنیوی وکړو.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د کندهار مرستون نوې ودانۍ هم د افغاني سرې میاشتې ټولنې د سرپرست مرستیال ښاغلي ملا نورالدین ترابي، د کندهار والي ښاغلي حاجي محمد یوسف وفا، د افغاني سرې میاشتې ټولنې د زون، کندهار نمایندګۍ او کندهار مرستون کارکوونکو، رضا کارانو او دیني علماو په شتون کې د ۱۴۰۰ لمریز کال د لړم میاشتې په ۸ مه نېټه ګټې اخستنې ته وسپارل شوله.

د کندهار مرستون دغه درې پوړیزه ودانۍ د کندهار ښار په عینو مینه کې د ۲۴ اپارتمانونو په درلودلو سره د ۲۴ بې سرپرسته کورنیو د ساتنې او پالنې ظرفیت لري، چې په اته زره متره مربع ځمکه کې د ۶۱ میلیونو افغانیو په لګښت د افغاني سرې میاشتې ټولنې له بودیجې جوړه شوه.

ښاغلي ملا نورالدین ترابي په ۱۴۴۳/۳/۲۸ نېټه له کندهار وروسته د ارزګان ولایت د سرې میاشتې د نماینده ګۍ لیدنه وکړه. په یاده لیدنه کې یې د نمایندګۍ ټولې اداري او پروګرامي چارې وڅېړلې، شته ستونزې، وړاندیزونه او غوښتنې یې واورېدلې، د چارو د سمون او ستونزو د حل په موخه یې مسوولینو ته لازم هدایات ورکړل او د امکاناتو د برابرولو ژمنه یې هم وکړه.

وروسته ښاغلي ترابي د هلمند ولایت د سرې میاشتې د اداري چارو د تنظیم او ستونزو د حل په موخه په ۱۴۴۴۳/۳/۲۹ سپوږمیز نېټه هلمند ولایت ته له پلاوي سره یو ځای سفر وکړ او د هلمند د سرې میاشتې ټولنې د نمایندګۍ له رییس او اړوندو څانګو له مسولینو سره یې غونډه ترسره کړه.

په غونډه کې د بېلا بېلو کاري څانګو مسوولینو د خپلو کاري چارو ترڅنګ د شته ستونزو او نیمګړتیاو یادونه هم وکړه.

ښاغلي ترابي مسوولینو ته د شته ستونزو د حل په موخه لازم هدایات ورکړل او ویې ویل چې" د اداري چارو په تنظیم کې به د سروې لپاره د کارکوونکو ترڅنګ رضاکاران هم ټاکو؛ ترڅو خپلې مرستې هغو مستحقو کسانو ته چې بېوزله وي ورسوو".

محترم ترابي صیب د مرستو د جذب په اړه وویل، چې" دمګړۍ د یو شمېر هېوادونو او مماثلو ټولنو له لوري له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره یوه اندازه خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې شوي او لا هم جریان لري، د احتیاط په خاطر د هغو کورنیو لپاره چې د سیلابونو او نورو ستونزو له کبله بې ځایه شي؛ د حفاظت او لاسنیوي په موخه غیرخوراکي توکي موجود دي او د اړتیا په وخت کې به یې لاسنیوی کوو."

د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښار کې هم د ۶۵ لکه افغانیو په لګښت د بې وزلو، یتیمانو او بې سرپرسته زده کوونکو لپاره د افغاني سرې میاشتې ټولنې له لوري د ځوانانو او رضاکارانو (ښوونیز مرکز) جوړ شوی د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلوپ سرپرست مرستیال ښاغلي الحاج ملا نورالدین ترابي او د هلمند د والي ښاغلي مولوي عبدالاحد طالب له خوا ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د افغاني سرې میاشتې د سرپرست مرستیال ښاغلي ملا نورالدین ترابي او ورسره مل پلاوي لخوا د سرې میاشتې د یادو څانګو د کاري چارو د څېړلو په پایله کې د بېلابېلو څانګو ۸۶ مورده موضوعات یادښت شول، چې په پام کې ده د سرې میاشتې لارښود پلاوی به یې په اړه لازم تصمیم ونیسي.



# کمک به ۱۸۱۵۸ خانواده متأثر از حوادث

جمعیت هلال احمر افغانی در جریان ماه سنبله سال ۱۴۰۰ در ولایت های بدخشان، پکتیا، کابل و لوگر برای ۷۵۲ خانواده بیجاشده ، متضررین سیلاب و معتادین مواد مخدر، مواد غذایی و غیر غذایی شامل ۶۵۰۰ کیلو روغن،۴۷۰۰ کیلو لوبیا، ۵۹۸۰۰ کیلو برنج، ۳۲۰۰ کیلو شکر،۱۴۰۰ کیلو نمک،۶۵۰ کیلو چای، ۶۰۰ بیسکویت، ۲۰۰ مکرونی، ۵۲ کیت صحی، ۳۴ سطل پلاستیکی و ۱۲ بسته البسه، کمک صورت نموده است.

در جریان ماه میزان سال ۱۴۰۰ در ولایت

های پکتیا، کابل، کنر، لوگر و میدان وردگ به ۳۱۵٦ خانواده بیجاشده و آسیب دیده گان سیلاب مواد غذایی و غیر غذایی حاوی ۲۱۳۵۰÷ کیلو روغن، ۱۴۹۴۵ کیلو لوبیا، ۵۲۳۰۸ کیلو برنج، ۱۰٦۷۵ کیلو شکر، ۲۱۳۵ کیلو چای، ۲۱۳۵ بیسکویت، ٦۰۰۰ کیلو خرما، ۲۱ تخته ترپال،۴۲ بشکه آب، ۱۰۵ تخته کمپل و ۱۲ بسته البسه، مساعدت بعمل آمده است.

در ماه عقرب سال ۱۴۰۰ در ولایت های بامیان، بدخشان، غزنی و کاپیسا برای ۱۳۵۰ خانواده مستحقین و متأثر از خشکسالی مواد غذایی و غیر غذایی شامل ۴۷۵۰ کیلو روغن،۳۸۰۰ کیلو لوبیا، ۹۵۰۰ کیلو برنج، ۳۸۰۰ کیلو شکر، ۱۵۲۰ کیلو نمک، ۲۱۳۵ بیسکویت، ۱۲۰۰ کلچه صابون دست شویی، ۸۰۰ کلچه صابون لباس شویی، ۱۰۸۰ ثوب البسه، ۴۰۰ کیت صحی، ۳۸۰۰ کیلو مکرونی،۱۲۰۰ کیلو نخود و ۱٦۱۵ قطی روب کمک صورت گرفت.

در ولایت باد غیس به تاریخ ۱۷ قوس سال ۱۴۰۰ برای ۱۱۰۰ خانواده نیازمند بسته مواد کمکی برای هر فامیل شامل: (۵۰ کیلو آرد، ۲۴.۵ کیلو برنج، ۱۰ لتر روغن، ۷ کیلو لوبیا، ۵ کیلو شکر، ۲ کیلو نمک طعام، ۱ کیلو چای سبز، ۱ بسته بیسکویت ( مساعدت بعمل آمد.

بتاریخ ۱۸ قوس سال ۱۴۰۰ برای ۱۲۰۰ خانواده متأثر از خشکسالی در ولسوالی المار و خواجه سبز پوش ولایت فاریاب هشت قلم مواد غذایی شامل: ۵۰ کیلو آرد، ۲۴نیم کیلو برنج، ۷ کیلو لوبیا، ۱۰ لیتر روغن مایع، ۵ کیلو شکر، یک کیلو چای سبز، ۲ کیلو نمک، ۱ بسته بیسکویت برای هر خانواده کمک صورت گرفت.

به تاریخ ۱۹ قوس سال ۱۴۰۰ هشت قلم مواد غذایی برای ٦۰۰ خانواده مستحق در قریه بیخ ولسوالی دهنه غوری ولایت بغلان شامل: (۵۰ کیلو آرد، ۲۴نیم کیلو برنج،۷ کیلو لوبیا، ۱۰ لیتر روغن مایع، ۵ کیلو شکر، یک کیلو چای سبز، ۲ کیلو نمک، ۱ بسته بیسکویت) توزیع گردید. و برای ۴۰۰ فامیل باقیمانده نیز در نظر است که کمک صورت گیرد.

به کمک و همکاری فدراسیون بین المللی صلیب سرخ و هلال احمرها مساعدت مواد خوراکی برای ۱۰۰۰۰ خانواده نیازمند به زون کندهار فرستاده شد و در گدام دفتر هماهنگی ساحوی جنوب ( کندهار) جا بجا گردیده است که برویت سهمیه به ولایت های مربوطه جهت کمک به خانواده های نیاز مند فرستاده می شود . این مواد شامل۸ قلم مواد خوراکی (آرد، برنج، روغن، بوره، لوبیا، چای، نمک و بیسکویت) میباشد.








# د افغاني سرې مياشتې ټولنې ځانګړې اونۍ ولمانځل شوه

د افغاني سرې مياشتې ټولنې د مشرتابه د پلاوي، د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د غړو، د دوستو هېوادونو د سفيرانو، د سره صليب د نړيوالې کميټې او ملي ټولنو د نړيوال فدراسيون د استازو، د سرې مياشتې د کارکوونکو، رضاکارانو او غړو له لوري د روان ۱۴۰۰ لمريز کال د تلې پر ۲۵مه نېټه د افغانستان د اسلامي امارت د رييس الوزرا د لومړي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر له لوري د رالېږل شوي حمايوي پيغام په لوستلو ځانګړې اونۍ ولمانځل شوه.

غونډه د قرانکريم په مبارکو آيتونو پيل شوه او بيا د افغانستان د اسلامي امارت د رييس الوزرا د لومړي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر حمايوي پيغام ولوستل شو. ورپسې د افغاني سرې مياشتې ټولنې سرپرست رييس ښاغلي مولوي مطيع الحق خالص ميلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ د سرې مياشتې د ځانګړې اونۍ پر تاريخچه او د اعانې پر راټولولو بشپړ مالومات وړاندې کړل او زياته يې کړه: "ځانګړې اونۍ له اړمنو سره د مرستې او د لاسنيوي غوره فرصت دی، له ټولو وګړو هيله کوم؛ ترڅو پدې برخه کې له افغاني سرې مياشتې ټولنې سره مرسته وکړي. نوموړي وويل: " يو ځل بيا دا اونۍ له ۱۳۳۱ لمريز کال راپدېخوا د سرې مياشتې د مالي بنسټ د پياوړتيا په موخه د تلې له ۲۴مې تر ۳۰مې نېټې د هېواد په مرکز او ولايتونو کې په شانداره مراسمو لمانځل کېږي."

د غونډې په ترڅ کې د سره صليب د نړيوالې کميټې د کوپريشن رييسې آغلې رابرتا، په افغانستان کې د نړيوال فدراسيون رييس ښاغلي نسفور، د افغانستان د اسلامي امارت د قبايلو او سرحداتو سرپرست وزير ښاغلي الحاج مولوي نورالله نوري او د کډوالو او مهاجرينو وزارت مرستيال ښاغلي ارسلا خان خروټي د افغاني سرې مياشتې ټولنې د ځانګړې اونۍ په اړه مفصلې خبرې وکړې. غونډه د ښاغلي مولوي انوارالحق مجاهد له لوري د دعايې په ويلو پای ته ورسېده.

د يادولو وړ ده، چې د سرې مياشتې ځانګړې اونۍ ددې ټولنې په ټولو ولايتي نمايندګيو کې هم ولمانځل شوه او د دې اونۍ په بهير کې د افغاني سرې مياشتې د کارکوونکو او رضاکارانو لخوا له ملي سوداګرو، هټيوالو، د لېږد رالېږد د وسايطو له خاوندانو او ټولو خيرپالو خلکو څخه مرستې را ټولې شوې.

د افغاني سرې مياشتې ټولنې ځانګړې اونۍ له ۱۳۳۱ لمريز کال را په دېخوا هر کال د تلې د مياشتې وروستۍ اونۍ يانې د تلې مياشتې له ۲۴مې تر ۳۰مې نېټې پورې د سرې مياشتې د مالي بنسټ د پياوړتيا او په ټولنه کې ددې ټولنې د بشرپال هويت د پېژندلو په موخه د هېواد په مرکز او ولايتو نوکې د غونډو په دايرولو او د مرستو او بسپنو په را ټولولو لمانځل کېږي.




# بېوزلـو ناروغانـو تـه د سـرې مياشـتې روغتيايـي خدمتونـه

د افغانـي سـرې مياشـتې ټولنـې روغتيايـي خانگـې د ۱۴۰۰ لمريـز کال د تلـې او لـړم د مياشـتو پـه بهيـر کـې د هېـواد پـه کچـه د روغتيـا پـه بېلابېلـو څانگـو کـې پـه لانـدې وړيـا روغتيايـي خدمتونـه وړانـدې کـړي:

**د زړه د ناروغـي  څانگـه**: د زړه پـه سـوري اختـه ۲۰ نـاروغ ماشـومان د درملنـې پـه موخـه د هېـواد پـه دننـه کـې د  ملـت او آريانـا روغتونونـو تـه ور وپېژنـدل شـول، چـې د ۱۸ ماشـومانو درملنـه ترسـره شـوه او ۲ ناروغـان غيـر حاضـر و.

**د سـرې مياشـتې مرکـزي روغتـون** : د سـرې مياشـتې مرکـزي روغتـون د کابل ښـار د بـادام بـاغ پـه سـيمه کـې شـتون لـري، چـې يـو وخـت  د کرونا ناروغـۍ درملنـې تـه ځانگـړی شـوی و او اوس مهـال پـه بېلابېلـو روغتيايـي څانگـو کـې فعاليـت کـوي. پـه يـادو دوه مياشـتو کـې يـې ۳۱۰۰ ناروغانـو تـه روغتيايـي خدمتونـه وړانـدې شـوي.

**ثابـت کلنيکونـه**: پـه ۳۰ ولايتونـو کـې د ۴۶ ثابـت کلنيکونـو لـه لارې ۲۱۴۷۸ ناروغـان پـه بېلابېلـو څانگـو کـې تـر درملنـې لانـدې نيـول شـوي او وړيـا روغتيايـي خدمتونـه ورتـه وړانـدې شـوي.

**جامـع روغتيايـي کلنيـک**: د کندهـار ولايـت پـه جامـع روغتيايـي کلنيـک کـې ۹۲۰۴ کسـه



ناروغانو ته د روغتیا په بېلابېلو څانګو کې وړیا روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.

**ګرځنده روغتیایي کلنیکونه**: په ۳۳ ولایتونو کې د ۳۹ ګرځنده روغتیایي ټیمونو لخوا ۷۴۴۸۰ ناروغانو ته روغتیایي خدمتونه او ښوونې وړاندې شوې.

**فرعي روغتیایي کلنیکونه**: په خوست، غزني، زابل او کندز ولایتونو کې د ۲۰ فرعي روغتیایي کلنیکونو او د ننګرهار او هرات په ولایتونو کې د ۲ فرعي روغتیایي کلنیکونو لخوا ۳۸٦٦٥ ناروغانو ته روغتیایي خدمتونه او درمل ورکړل شوي.

**کتلوي معافیت**: د پکتیکا، کندهار، هلمند، ارزګان، نورستان، ننګرهار او کنړ په ولایتونو کې د ۳۱ کتلوي معافیت ګرځنده ټیمونو لخوا ٦١٦٨٦ ناروغان تر درملنې لاندې نیول شوي او وړیا درمل او روغتیایي لارښوونې هم ورته وړاندې شوې.

**د ټولنې په کچه روغتیایي لومړنۍ مرستې**: ۱۰۵۴۱۱ کسانو ته د روغتیا په بېلابېلو څانګو کې روغتیایي لارښوونې شوې، ۹۲۴۵ کسانو ته د کرونا ناروغۍ په اړه پوهاوی ور کړل شوی، ۷۴۵ میندو ته د هرات او بامیانو په ولایتونو کې د ORS، د مورشېدې او ساري ناروغیو په هکله معلومات ورکړل شوي، ۳۲٦۳۸ کسانو ته د پانسمان، سوزیدنې او زخمونو د رغیدو خدمتونه وړاندې شوي، ١٦٧٣ ناروغان یې روغتیایي مرکزونو ته لېږدولي او ۲۵۳۷ کسانو ته په خپلو کورونو کې روغتیایي لارښوونې شوې.

# احسان و نیکوکاری



نویسنده: احسان الله – حکیمی

یکی از کارهای بسیار مهم زندگی مؤمن که مورد تأکید خداوند (ج) و رسول گرامی اسلام (ص) است که همیشه باید در لیست برنامه های ضروری او باشد، مسئله ی برآوردن حاجات مؤمنین و گره گشایی از زندگی آنهاست. اهمیت این موضوع در حدی است که پی بردن به آن از حد ظرفیت عقل آدمی خارج است.

در حدیثی از پیامبر عزیز اسلام (ص) وارد شده است که حضرت فرمود: " هر کس دل مؤمنی را شاد کند، مرا شاد نموده و هر که مرا شاد نماید خدا را شاد نموده است." (اصول کافی، ج ۳، ص ۲۷۶؛ بحارالانوار، ج ۷۱، ص ۲۸۷) برابری شاد نمودن دل مؤمن با شادی خدا (ج) چیزی نیست که ما با عقل قاصر خود بتوانیم آن را درک نماییم.

به یکی از آیات نورانی قرآن کریم در این زمینه اشاره می نمایم: خداوند مهربان در سوره ی مبارکه بقره در بیانی بسیار لطیف و زیبا می فرماید: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الأَرْضِ" ( آیت ۲۶۷)

ای کسانی که ایمان آورده اید، از

بهترین چیزهایی که بدست آورده اید و از آنچه از زمین برای تان بیرون آورده ایم، انفاق نمایید.

این سفارشات نورانی از جانب آن قدرت بی مثال، بیانگر اهمیت فوق العاده مسئله کمک رسانی به فقرا و تنگدستان است.

و لذا بر مؤمنین خدا باور است که در این جهت از خود ذره ای تعلل و سستی نشان نداده و با گوش جان به سخنان دلربای حضرت حق گوش فرا دهند، تا در مقابل از آثار مفید و برکات مادی و معنوی آن بهره ی کافی و وافی را برده باشند.

شیطان دشمن نابکار و موجود خطرناکی است که هدفش بر هم ریختن اساس خوشبختی دنیا و آخرت آدمی است، و لذا به جرأت می توان گفت: او دشمن شماره یک انسان است.

وسوسه های شیطان ممکن است که مانع از انفاق و صدقه و کمک رسانی به فقیر شود، حتی ممکن است در پرداخت زکات و عشر و سایر انفاق تأثیر سوء گذارد، و لذا نباید فریب وسوسه های پوچ و بی اساس او را بخوریم.

امر به احسان و نیکوکاری:

۱- "وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ" ( سوره بقره – آیت ۱۹۵) "نیکی کنید که خداوند نیکوکاران را دوست می‌دارد".

۲- "أَحْسِنْ كَما أَحْسَنَ اللهُ إِلَيكَ"؛ ( سوره قصص – آیت ۷۷) "نیکی کن همان گونه که خداوند به تو نیکی کرده است."

۳- "إِنَّ اللهَ يأمُر بِالعَدْلِ وَالاحْسانِ"؛ ( سوره نحل – آیت ۹۰) "به درستی که خداوند بر عدالت و نیکوکاری فرمان می‌دهد".

پاداش احسان و نیکوکاری:

۱- دوستی خداوند: "فَأَتاهُمُ اللهُ ثَوابَ الدُّنيا وَحُسْنَ ثَوابِ الاخِرَةِ واللهُ يحِبُّ المُحْسِنينَ" (سوره آل عمران – آیت ۱۴۸) "پس خداوند به آنها (نیکوکاران) ثواب دنیا و پاداش نیک آن جهان را داد و خداوند نیکوکاران را دوست دارد".

۲- پاداش دنیایی: "لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ"؛ ( سوره نحل – آیت ۳۰) "برای کسانی که احسان می کنند در همین دنیا پاداشی است".

۳-پشتیبانی الهی: "إِنَّ اللهَ لَمَعَ المُحسِنينَ" ( سوره عنکبوت – آیت ۶۹) "خداوند هر آینه با نیکوکاران است".

**تو نیکی می‌کن و در دجله انداز**
**که ایزد در بیابانت دهد باز**
**کسی نیک بیند به هر دو سرای**
**که نیکی رساند به خلق خدای**
**خدا را بر آن بنده بخشایش است**
**که خلق از وجودش در آسایش است**

# د سینه بغل (نیمونیا) ناروغي

ډاکتر عماد الدین پژمان

سینه بغل په ماشومانو کې یوه خطرناکه ناروغي ده، چې ډېر ځله مور او پلار بې له دې، چې د ناروغۍ نښو ته پام وکړي؛ یو خطرناک پړاو ته ننوځي، چې بیا یې درملنه ډېره ستونزمنه شي او الله سبحانه و تعالی مکره د ماشومانو د مړینې لامل هم ګرځي.

سینه بغل ناروغي چې طبي اصطلاح یې نیمونیا Pneumonia ده؛ بېلابېل لاملونه لري.

کیدای شي دا ناروغي ویروسي وي یا هم باکتریایي وي او یا کوم بل لامل ولري. د بېلګې په ډول فنګسونه، خرابه هوا، کیمیاوي ګازونه او داسې نور؛ خو تر ټولو مهم یې باکتریایي او ویروسي ډولونه دي.

په دې ناروغۍ کې سږي له ښیرو ډکېږي او بدن ته د اوکسیجن په رسیدو کې ستونزې را منځته کېږي . له همدې امله د ماشوم رنګ تورېږي او یا شین بخن ګرځي.

سینه بغل په ټولو عمرونو کې پېښېږي، خو تر ډېره له دوو کلونو واړه ماشومان پرې اخته کېږي، چې د هغوی د مرګ لامل هم ګرځي.

**د سینه بغل نښې:**

له دې امله چې د سینه بغل لومړنۍ علامې عادي ریزش او زکام ته ورته دي، ډېر ځله یې له دې ناروغۍ سره توپیر نه کېږي او د ناوړه پېښو د را منځته کیدو لامل ګرځي.

په یوه دقیقه کې له ۵۰ ځلو زیات د ماشوم د تنفس د شمېر ډېروالی، د بدن په تېره د خولې د شا او خوا او نوکونو شنه کیدل، تبه، له تنفس سره د سینې کشش او بلغم لرونکی ټوخی یا د سینې ډکوالی، چې د ماشوم له تنفس سره یو ډول آواز وي، د سینې د ډکوالي خرګندوي دي .د سینې د ډکوالي په صورت کې تنفس د سینې د سخت درد لامل هم ګرځي.

پورته موارد د سینه بغل مهمې نښې دي او که تاسې دا نښې په کوم ماشوم کې وینئ؛ باید ډاکتر ته یې بوځئ او ښه خبره داده، چې په روغتون کې بستري شي، اکسیجن ورکړل شي او په اوبو کې منحل سلبوتامول او زرقي انتي بیوتکونه ورکړل شي.

هیڅکله پورتنې نښې آسانه مه ګڼئ، ځکه که په دوو ورځو کې د ماشوم په حالت کې ښه والی رانه شي، نو الله سبحانه و تعالی مکره د مړینې احتمال بې ډېر زیاتېږي.

د ماشومانو د بدن مقاومت ډېر کم وي؛ له همدې امله باید تود وسائل شي، خو اړینه ده، چې په هوا کې د اکسیجن سلني هم کمه نه وي؛ بلکې په کوټه کې تازه هوا هم وجود ولري.

ډېرخلک د ژمي د سړو په رارسیدو د کوټو په کړکیو او ورونو دومره درنې پردې را ځوړندوي، چې په اونیو اونیو یا ورځو ورځو دې کوټې ته تازه هوا نه ننوځي، چې دا ډېره خطرناکه ده. باید کوټه له تودوالي سره په ځنګ کې تازه هوا او د هوا جریان هم ولري.

په نړۍ کې تر اوسه د سینه بغل تر شلو ډېرلاملونه پېژندل شوي، چې ډېرې برخه یې بېلابېل ویروسونه او باکتریاوې دي، خو فنګسي سینه بغل هم شته، چې کم وي خو خطرناک دی.

همدا راز د هوا ککړوالی په تېره د کیمیاوي موادو او د موټرو د لوګي تنفس کول هم د سږو د پړسوب او سینه بغل لامل کېږي. سینه بغل اوس مهال د نړۍ د وژونکو ناروغیو په کتارکې اووم ځای لري؛ یانې یوه ډېره وژونکې او خطرناکه ناروغي ګڼل کېږي.

ناروغ ته د تازه هوا تر څنګ ګرم مایعات ورکړئ او که په وجود کې د اکسیجن کمښت رامنځته شي؛ ډېر ژر د ناروغ نور حیاتي غړي لکه زړه، ینه او بډوډي هم له کاره لوېږي.

د سینه بغل لپاره واکسین هم شته، چې د وجود مقاومت ورسره لوړېږي، نو له همدې امله د خپلو ماشومانو واکسینولو ته باید ډېره پاملرنه وکړئ.

په ځینو هیوادونو کې میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو واکسین یوه ورځ هم نه ځنډوي او په کومه ورځ یې چې د ماشوم د واکسینولو وخت وي؛ تر ټولو مهم کارونه پرېږدي، خو خپلو ماشومانو ته واکسین ورکوي.

د ماشومانو په واکسینونو کې هم د سینه بغل واکسین شته او په ټولیزه توګه د ټوخي او ریزش لپاره هم یو ډول واکسین شته، چې کابو ۸۰ سلنه تنفسي ناروغۍ ورسره کمېږي، خو دا واکسین لا تر اوسه د ماشومانو د واکسینو په عمومي سستم کې نه دي شامل.

په سینه بغل کې یو خطرناک حالت هم سږو ته د کانګې یا نورو موادو ننوتل دي. ماشومان چې په سینه بغل اخته شي او د اکسیجن له کمښت سره مخ شي، نو ډېر وخت خپل شعور یا هوښ هم له لاسه ورکوي، چې په دې صورت کې یې سږو ته کانګې یا خواړه ننوزي، چې یو ډېرخطرناک حالت دی او ډېر کم ماشومان ترې ژوندي پاتې کېږي.

## کوم کسان تر ډېره بریده په دې ناروغۍ اخته کېږي؟

لومړی هغه کسان چې د وجود معافیت یې کم وي په دې ناروغۍ اخته کېږي لکه ماشومان او سپین ږیری، خو هغه ماشومان چې واکسین یې نه وي کړي، ډېر د دې وېره شته، چې په سینه بغل اخته شي .

همدا راز سګرېټ یا چلم څکوونکي او هغه کسان چې په طحال (توري) یا په کومه بله ناروغۍ اخته وي یا یې جراحي عملیات کړي وي، په سینه بغل اخته کېږي.

یوه بله خطرناکه خبره دا ده، چې په دې وروستیو کې ډېری ناپېژندل شوي ویروسونه په افغانستان او سیمه کې د سینه بغل لامل کېږي، چې تر ډېره درملنه هم نه لري.

له بده مرغه په افغانستان کې د تشخیص وسایل هم کم دي؛ آن ډاکتران دا نه شي تشخیصولای چې ناروغ په کوم ډول سینه بغل اخته دی.

یو عادي ټېست شته چې په هغو کې د وینې سره کرویات کتل کېږي. د وینو د سرو کروياتو یو ډول حجرې په باکتریايي او یو شمېر یې هم په ویروسي ناروغیو کې زیاتېږي، چې ډاکتران یې تخمیني اټکل کوي.

ډاکتران په تېره عام ډاکتران یوائې څو محدود ټیسټونه لکه د وینې د سپینو او سرو کروياتو د شمېر په څېړټیسټونه په واک کې لري، چې تل د ډاډ وړ نه وي.

په هر صورت په سینه بغل اخته ماشومانو او لویانو ته تر ټولو مهمه داده، چې لومړی باید د ناروغۍ د لامل درملنه وشي؛ یانې که ناروغي باکتریايي وي باید مناسب او اړین انتي بیوتک ورکړل شي؛ ترڅو ژر تر ژره د ناروغۍ لامل له منځه لاړ شي.

همدا راز ویروسي سینه بغل ته د ویروس ضد او د بدن د معافیت زیاتوونکي درمل ورکول کېږي. ناروغ باید زیات مایعات واخلي او باید ګرم وساتل شي.

ناروغ ته که اړتیا وي باید اکسیجن ورکړل شي او یا باید په روغتون کې د نیبولایزر په وسیله مایع سلبوتامول له اکسیجن سره ورکړل شي، ترڅو سینه یې تر ممکنه حده خلاصه شي. باید د مشکولې په وسیله د ناروغ سینه ګرمه وساتئ او د درد او تبې لپاره درمل ورکړئ.

د ټوخي لپاره مناسب درمل باید ورکړل شي. دلته یوه خبره اړینه ده او هغه دا چې د ټوخي درمل بېلابېل ډولونه لري. کله کله د ډاکتر له مشورې پرته د ټوخي درمل استعمالول ناوړه پایلې لري.

ټوخی په خپله د وجود یو دفاعي سېسټم دی. په ټوخي سره ناروغ له سږو اضافي مواد وباسي. یو ډول د ټوخي شربت دی، چې د ټوخي د دریدو لامل ګرځي. په دې سره د ناروغ ټوخی له منځه ځي، خو سینه یې ډکه پاتې کېږي، چې ډېر خطرناک حالت دی.

له همدې امله ناروغ ته باید د سینې د خلط او مایعاتو نرموونکي شربتونه ورکړل شي، نه د ټوخي درروونکي.



## تعداد شفا یافته گان بیماران سوراخ ولادی قلب با مساعدت مردم خیر اندیش کشور


| ش | اسم مریض | ولد | ولایت | سن | تاریخ پیشنهاد رجعت دهی به شفاخانه | نمبر تیلفون | شفاخانه | فوتوی قبل از عملیات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸۶ | پریسا | جعفر | بادغیس | ۷ساله و ۱ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۹۳۲۶۲۱۶ | GMC |  |
| ۱۸۷ | محمد عثمان | محمد هاشم | جوزجان | ۷ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۳۱۹۶۶۶۶۶ | GMC |  |
| ۱۸۸ | ذلیخا | نعیم الله | غزنی | ۱ساله | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۶۲۷۹۰۴۰ | fortis |  |
| ۱۸۹ | محمد تمیم | محمد سلیم | لوگر | ۲۱ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۴۳۶۸۶۳۵ | fortis |  |
| ۱۹۰ | طیب الله | گل احمد | فاریاب | ۱۹ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۵۳۳۰۷۰۲ | fortis |  |
| ۱۹۱ | سید الرحمن | حبیب الرحمن | غزنی | ۲ساله و ۵ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۰۳۲۶۹۶۶ | fortis |  |
| ۱۹۲ | محمدیوسف | یعقوب | پکتیکا | ۶ساله و ۱۱ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۸۵۹۹۴۴۰ | fortis |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۳ | محمد یوسف | عنایت الله | وردگ | ۱۰ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۸۸۹۵۰۷۵ | fortis |  |
| ۱۹۴ | محمد خان | قسمت الله | ننگرهار | ۲ساله | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۲۷۴۳۷۹۵ | fortis |  |
| ۱۹۵ | مهناز | غلام نبی | فراه | ۲ساله و ۷ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۴۱۱۵۴۵۸ | fortis |  |
| ۱۹۶ | حمید خان | محمد داود | فاریاب | ۲ساله و ۱ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۶۱۹۷۳۰۶ | fortis |  |
| ۱۹۷ | عصمت الله | محمد عظیم | فاریاب | ۱۰ساله و ۱ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۲۹۹۵۰۰۴ | fortis |  |
| ۱۹۸ | اسرا | امین الله | پنجشیر | ۱۹ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۲۸۸۷۳۱۵۲ | fortis |  |
| ۱۹۹ | آسیه | محمد اسمعیل | کندهار | ۱۵ماهه | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۰۳۶۸۹۳۳ | fortis |  |
| ۲۰۰ | عبدالبصیر | شاهی خان | کابل | ۳ساله | ۱۰.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۳۴۷۸۴۷۹ | fortis |  |
| ۲۰۱ | نظیر احمد | نظر محمد | بادغیس | ۸ساله و ۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۷۰۹۰۷۱۱ | GMC |  |
| ۲۰۲ | مدینه | سیدالرحمن | کابل | ۴ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۰۲۳۹۳۰۲ | GMC |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۳ | حضرت علی | نور محمد | بغلان | ۱۲ساله و ۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۴۸۶۵۵۸۵۱ | GMC |  |
| ۲۰۴ | عالیه | شایسته نور | وردگ | ۲۰ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۸۸۲۰۹۰۱ | GMC |  |
| ۲۰۵ | سید لطف الله | سید نصر الله | فاریاب | ۳ساله و ۶ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۸۷۱۰۹۰۰ | GMC |  |
| ۲۰۶ | رضوان الله | ذبیح الله | بلخ | ۲۳ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۷۵۴۹۱۱۰ | GMC |  |
| ۲۰۷ | رضوان الله | حکمران | خوست | ۳ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۶۸۸۸۶۷۷ | GMC |  |
| ۲۰۸ | رحمت الله | محمد ابراهیم | بلخ | ۲۲ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۱۹۷۲۶۱۳ | GMC |  |
| ۲۰۹ | احمد زبیر | احمد شاه | لوگر | ۲ساله و ۶ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۷۸۸۲۸۵۶ | GMC |  |
| ۲۱۰ | احمد مصدق | عید محمد | پروان | ۱۷ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۲۹۹۴۷۷۸ | GMC |  |
| ۲۱۱ | مدثر | عبدالوهاب | کنر | ۱۸ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۵۱۵۶۲۰۰ | GMC |  |
| ۲۱۲ | یوسف | بریالی | کنر | ۱ساله و ۱۱ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۶۳۶۵۷۷۶ | Amiri |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱۳ | شفیقه | دین محمد | پروان | ۴۸ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۶۷۶۵۷۲۷ | Amiri |  |
| ۲۱۴ | معصب | اغاگل | بغلان | ۱ساله و ۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۹۰۹۸۶۷۴ | Amiri |  |
| ۲۱۵ | محمد | امان الله | لغمان | ۱ساله و۹ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۵۴۴۸۵۵۶ | Amiri |  |
| ۲۱۶ | محمد یاسر | عبدالجبار | فاریاب | ۲ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۸۴۵۰۹۸۰ | Amiri |  |
| ۲۱۷ | لقمان | موسی خان | پکتیا | ۱ساله و ۱۱ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۲۲۸۴۱۸۵ | Amiri |  |
| ۲۱۸ | کلثوم | ذکریا | ننگرهار | ۱ساله و ۷ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۳۲۵۱۵۴۵ | Amiri |  |
| ۲۱۹ | اسرا | فضل الدین | سرپل | ۲ساله و ۶ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۹۸۹۱۰۰۵ | Amiri |  |
| ۲۲۰ | اسایش | جاوید | کاپیسا | ۲ساله و ۸ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۰۱۵۳۳۸۳ | Amiri |  |
| ۲۲۱ | عبدالرازق | سید اکبر | کابل | ۱ساله و ۹ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۱۴۰۲۶۱۴ | Amiri |  |
| ۲۲۲ | علی اصغر | محمد مهدی | وردگ | ۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۳۰۵۴۱۰۶ | Amiri |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲۳ | علی امید جان | محمد علی | وردگ | ۴ساله و ۷ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۰۳۷۶۵۷۲ | Amiri |  |
| ۲۲۴ | عبدالصفا نظری | محمد آصف | کندز | ۱۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۳۱۳۰۷۲۹ | GMC |  |
| ۲۲۵ | اختر محمد | علی شاه خان | خوست | ۵ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۵۰۰۹۸۶۵ | GMC |  |
| ۲۲۶ | انیسه | عبدالله اسد | لغمان | ۳۷ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۱۱۲۸۰۴۴ | GMC |  |
| ۲۲۷ | بی بی آمنه | سیف الله | کنر | ۳ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۴۸۵۰۶۸۳ | GMC |  |
| ۲۲۸ | بی بی رایمه | گل مرجان | پکتیا | ۷ساله و ۱۰ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۷۰۸۰۹۰۷ | GMC |  |
| ۲۲۹ | گل میوه | بخت ولی | خوست | ۱۶ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۳۵۲۴۴۶۰ | GMC |  |
| ۲۳۰ | حبیب الرحمن | عبدالرحمن | ننگرهار | ۳۸ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۱۷۷۰۰۵۶ | GMC |  |
| ۲۳۱ | حسیب الله | محمد انور | کابل | ۱۵ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۵۰۴۰۶۹۰ | GMC |  |
| ۲۳۲ | حضرت عمر | عبدالرحمن | هلمند | ۱۱ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۴۵۴۲۱۱۲۵ | GMC |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳۳ | حزب الله | عتیق الله | ارزگان | ۱۶ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۵۶۹۳۸۹۸ | GMC |  |
| ۲۳۴ | مهدی | گل محمد | هرات | ۱۸ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۴۴۶۰۶۶۸ | GMC |  |
| ۲۳۵ | مصباح الدین | امان | ننگرهار | ۲ساله و ۶ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۶۱۹۴۷۱۲ | GMC |  |
| ۲۳۶ | محمد شریف | کمال الدین | فاریاب | ۹ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۶۶۸۷۹۹۶۰ | GMC |  |
| ۲۳۷ | محمد | رنگو | هلمند | ۸ساله و ۲ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۳۶۰۷۸۹۹ | GMC |  |
| ۲۳۸ | منیر | محمد نسیم | فاریاب | ۴ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۵۱۷۶۹۲۸ | GMC |  |
| ۲۳۹ | مرتضی | عبیدالله | فاریاب | ۷ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۶۸۷۰۶۰۰ | GMC |  |
| ۲۴۰ | نور الله | قاری سید غفور جان | خوست | ۲۰ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۰۶۱۸۴۵۱ | GMC |  |
| ۲۴۱ | سید نجیب الله | سید مصطفی | بدخشان | ۲ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۶۶۵۸۰۰۵۷ | GMC |  |
| ۲۴۲ | شاه محمد | محمد ظاهر | جوزجان | ۱۱ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۲۸۰۰۳۷۳ | GMC |  |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴۳ | سیدیس | بلال | لغمان | ۱۴ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۸۸۶۳۴۱۹ | GMC |  |
| ۲۴۴ | سهیل | نصیر | بغلان | ۲۱ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۰۵۰۲۶۶۹۱ | GMC |  |
| ۲۴۵ | عایشه | سید قمرالدین | جوزجان | ۱۲ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۶۵۷۴۳۴۲ | GMC |  |
| ۲۴۶ | سید سجاد | سید موسی | دایکندی | ۲ساله و ۷ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۷۱۷۳۲۱۴۱ | GMC |  |
| ۲۴۷ | بی بی سایره | خیر محمد | بغلان | ۲ساله و۳ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۹۶۷۷۶۴۲ | GMC |  |
| ۲۴۸ | محمد یوسف | خان شرین | فاریاب | ۲ساله و۵ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۸۲۸۳۴۴۲۹ | GMC |  |
| ۲۴۹ | فضل الله | خیرالدین | کندز | ۵ساله و ۱۰ماهه | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۲۸۱۶۷۰۰۵ | GMC |  |
| ۲۵۰ | احمد ضیا | محمد افضل | کندز | ۱ساله | ۱۷.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۸۱۳۳۷۱۷ | GMC |  |
| ۲۵۱ | ذکر الله | سیف الله | کندز | ۲ساله | ۲۳.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۹۲۰۰۵۷۹ | FMIC |  |
| ۲۵۲ | بی بی زهرا | گل احمد | کابل | ۱۱ماهه | ۲۳.۱۱.۱۳۹۸ | ۷۹۰۷۴۳۶۰۲ | FMIC |  |

# د افغاني سرې مياشتې ټولنې لنډه پېژندنه

د افغاني سرې مياشتې ټولنه زمونږ د هېواد بشرپاله، ناپلوې او خپلواکه خيريه ملي ټولنه ده، چې په افغانستان کې د طبيعي او جګړه ييزو پېښو قربانيانو ته بې توپيره خدمتونه او مرستې وړاندې کوي؛ ترڅو په دې توګه د هغوی د رنځ او کړاو د کمولو او د ژوند او انساني کرامت ملاتړ وکړي.

سره مياشت په دې ډګر کې شپږ اتيا کاله تاريخي قدامت لري.

د پېښو په ډګر کې د سرې مياشتې خدمتونه د طبيعي او غيرطبيعي پېښو زيانمنو ته د خوراکي او غير خوراکي توکو پر مرسته، د بنديانو او ورکو خلکو له کورنيو سره د هغوی پر اړيکو ټينګولو او د جګړې د ډګر د جسدونو په لېږد متمرکز دي.

د سرې مياشتې روغتيايي څانګه د ثابتو روغتيايي مرکزونو، ګرځنده روغتيايي ټيمونو، په ټولنه کې د لومړنيو روغتيايي رضاکارانو، په هېواد کې دننه او بهر هېوادونو کې د زړه په سوري د اخته ناروغو ماشومانو او د ماتو هډوکو او سختو سوزيدلو ماشومانو درملنه او د روغتيايي ښوونې او خبرتياوو له لارې بېوزلو ناروغانو ته په وړيا توګه روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي.

د بې مشره کورنيو او يتيمو ماشومانو د ساتنې او پالنې په خاطر سرې مياشتې په کابل، کندهار، هرات، بلخ او ننګرهار ولايتونو کې مرستونونه رامنځته کړي، چې په هغو کې يې ګڼ شمېر بېوزله کورنيو، يتيمو ماشومانو او رواني ناروغانو ته د ژوند د اسانتياو تر څنګ د زده کړې زمينه هم رامنځته کړې، ترڅو هغوی په راتلونکې کې دا وړتيا پيدا کړي، چې خپل ژوند په خپله پرمخ بوځي.

سرې مياشتې په هېواد کې د خپلې خوښې خدمتونو لپاره د رضاکارانو پراخه شبکه را منځته کړې، چې په کليو او بانډو کې د بشرپالو خدمتونو په ترسره کولو د سرې مياشتې استازيتوب کوي. دوی د سرې مياشتې اړيکې او لاسرسی له خلکو سره ټينګ او چمتو کړې او د خپلې خوښې پر بنسټ د بشرپالو خدمتونو په ترسره کولو کې د سرې مياشتې باور او په ډاډمنه توګه زيانمنو خلکو ته د سرې مياشتې د لاسرسي وسيله ګرځيدلې.

سره مياشت د خپلو کاري اصولو پر بنسټ او د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سيمه ييزو رضاکارانو په شتون سره هغو سيمو ته لاسرسی لري او بشرپال خدمتونه وړاندې کوي، چې نور بنسټونه ورته لاسرسی نلري.



**توزیع پول نقد از طرف جمعیت هلال احمر افغانی به خانواده های متأثر از حوادث طبیعی و غیر طبیعی**



**المان هېواد ته استول شوي هغه ناروغ ماشومان، چې له درملنې وروسته هېواد ته راستانه شوي.**